مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین ۲۰۲۳/۱۰/۲۳

# د حماس او اسرائیلو جګړه

## او د جګړې نړیوالې اغیزې

تیر تاریخ او پیښنو داسې ښودلې چې په نړۍ کې دوه هیوادونه پاکستان او اسرائیل د نړیوال استعمار د خاصو موخو د عملي کولو له پاره د نړۍ په دوه خورا مهمو او ستراتیژیکو موقیعتونو کې راوزیږل، ځکه چې منځنۍ ختیځ او مرکزي اسیا د اقتصادي زیرمو، نفتي منابعو او سوق الجیشي موخو دوي ته خورا اهمیت درلود.

یهودو له ډېرپخوا نه دغه سېمې تر نظر لاندې درلودې. د نولسمې پیړۍ په ورستیو کې د یهودو نامتو مشر هرتزل په ۱۸۹۷ میلادي کال کې د سویس په بال ښار کې د یهودو لومړنی کنفرانس جوړ کړ، چې د کنفرانس اجندا د یهودي دسیسو عملي کول وو.

نوموړی په خپل کتاب( یهودي دولت) کې فلسطین د وعدو ځمکه او د بني اسرائیل د انبیاؤ د بعث ځمکه یاده کړي ده. د همدې مفکورې پر اساس دوی د نیل څخه تر فرات پورې چې د مصر، سیناُ او فلسطین بحر هم په کې راځي او همدارنګه یې د عراق غربي برخې، سوریه، لبنان، اردن او د شام ځنې دښتې هم ونیولی، ان تر دې چې خپلې جرړې یې مکې او مدینې پورې هم ورسولې.

په ۱۹۴۸ میلادی کال یهودو د عربو د بې اتفاقیو په نظر کې نیولو سره د لویو قدرتونو په ملتیا سره د اسرائیلوحکومت رامینځته کړ، چې په دې اړه دافید بن غوریون د اسرائیلو د دولت لومړي وزیر داسې وویل:

«بیشکه چې صهیونیزم نن ورځ خپل هدف د همکارو قوتونو په ملاتړ ترلاسه کړ، چې هغه هم د یهودي دولت مینخته راتګ دی، تاسې باید پوه شئ چې دا زموږ د کامیابۍ پای نه دی، بلکې نن موږ د خپل هدف په لور قدم کیښود، موږ باید په دغه لار کې ډېرې هڅې وکړو تر څو چې هغه دولت جوړ کړو کوم د پاره چې موږ د نیل څخه تر فرات پورې پلانونه سنجولي دي.»

دافید بن غوریون په قول چې د اسرائیلو دولت له هغه تقسیم څخه زیادت مساحت کې قائم شو کوم چې د یهودو او عربو تر مینځ د فلسطین تقسیم تر سره شوی و، چې بلا خره د یهودو د مسلسلو لوبو په ترڅ کې اسرائیلو خپله جغرافیه نوره هم پراخه کړه ، د عربي هیوادونو په اشغال یې پیل وکړ، چې په پای کې یې د همدغو عربو په مرسته خپله واکمنۍ نوره هم پراخه کړه، تر دې چې سیناُ، جولان او د شمسفلسطین ټولو ځمکو باندې یې ګونډې ووهلې.

د پورتنیو شومو پلانونو او دسیسو په نظر کې نیولو سره په عربي نړۍ کې فلسطین داسې یوهېواد دی، چې له ډېرو لسیزو راهیسې د ازادۍ د لاسته راوړلو په هڅه کې یې زیاتې ناودې، د نړیوالو او حتی د خپلو عربو له لاسه لیدلې. خو دغه ولس خپله مبارزه نه ده پرې ایښې له داسې یو اټومي زبرځواک لکه اسرائیل، چې پر نړۍ حکومت کوي او د یهودو له رضایته پرته په امریکا کې څوک واکمنۍ ته نشي رسیدلی، لاس او پنجې نرموي. فلسطینیانو د ډېرو او لیندو په واسطه د اسرائیلو له پرمختللو وسلو او پوځې ځواک سره مبارزه کړې خو د تسلیمی سر یې نه دی ټیټ کړی.

د فلسطینیانو ملي مشر یاسر عرفات د فلسطین د آزادي بښونکی سازمان په رامنځ ته کولو سره د جګړو اوسولې له لارې اسرائیل دې ته مجبور کړل چې د خبرو میز ته ورسره کیني، د مادرید، اسلو او کمدیوید کنفرانسونه یې غوره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بیلګي دي، خو د اسرائیلو د سرغړونو له امله یاسرعرفات ونشو کړای چي په خپل ژوند کي یو خپلواکه فلسطیني دولت جوړ کړي.

هغه وخت چي یاسرعرفات د سولي په خبرو اخته و، فلسطینیانو څارنه کوله او په خپلو سترګو یي لیدل چي اسرائیل د امریکا او غرب د پلوي له امله په خبرو اترو کي له چل اوفریب نه کار اخلي نو ځکه د حماس د فعالیت له پاره زمینه برابریده او ډېر ژر دغه سازمان په یو قوی، ځواک د بدلیدو خواته رون وه چي د اسرائیلو له پاره یي سردردي پیښولي شو.

حماس له جوړیدو بیا تر دغي وروستی حملي تل ښکاره او پټي حملي ترسره کولي، خو دا ځل یي دومره یوه سنجول شوي ځواکمنه حمله تر سره کړه چي اسرائیل او پلویان یي دې ټکي ته متوجه کړل چي د ظلم استبداد او نیواک خاتمه مرګ او بربادي ده.

دلته اصلي خبره دا ده چي حماس خو خپل کار وکړ او پر دې هم ښه پوهیده چي د دوې تر حملي وروسته به اسرائیل د خپل غچ اخستلو له پاره به ځومره بې ګناه فلسطینیان وژني او ځومر سیمي په له خاورو سره برابروي.

حقیقت خو همدا دي چي دغه رواني جګړې د روس، امریکا، اروپا ،ایران، اسرائیل، چین امریکا د اقتصادي ګټو او ستراتیژیکو موخود لاسته راوړلو له پاره تر سره کیږي، خو قربانیان یي د فلسطین خاوره، فلسطینیان، افغانان او په دغو سیمو کي ځینی ګاونډي هیوادونه او ولس دي چي د تباه کیدو په حال کي دي.

جګړه دې ورکه شي، د اوسنۍ جګړې منفي اغیزې به د فلسطین، غزې او یو شمېر ګاونډیو هیوادو، لکه لبنان، سوریه، مصر، سعودی عرب او همدا ډول ایران، پاکستان او افغانستان هم بې له شکه له سختو ستونزو سره مخ کړي، هغه د نیکو مناسباتو پیل چي د سعودی عرب او اسرائیلو، سعودي عرب له ایران سره د جوړید په حال کي وو، د بیرته کړکیچن کیدو احتمال یي خورا ډېر دی. همدا ډول د حزب الله ډله او د یادو شوو هیوادو یو شمېر نور وسلوال ګروپونه ممکن په مستقیم ډول او یا په پټه دغه جګړه کي برخه واخلي طبعی ده چي جګړه به اوږده شي فلسطینیان به له سختو ستونزو سره لاس او ګریوان شي.

د دغي جګړې اغیزی پر افغانستان هم خپل منفی اغیزی لوبولای شي، طالبان طبعی ده چي د فلسطین له خلکو سره ممکن خواخوږي ښکاره کړي. چي دغه جګړه به له یوه لوري له افغانستان سره د نړیوالو رواني مرستو کي لږوالی راولي او له بله پلوه به د اسرائیلو نړیوال پلویان د تالبانو پر ضد راوپاروي. بله منفی اغیزه د افغان هغو مهاجرو چي په غیر قانوني ډول په ایران، پاکستان او یو شمېر نورو عربي هیوادو کي اوسیږي، امکانات یي شته چي د اقتصادي ستونزو او احساساتو نه یي منفي ګټه واخستل شي او دغه جګړه کي برخه اخستو ته اړویستل شي.

زما په اند د ایران، روسیي ګټه به په دې جګړه کي دا وي، چي ځومره دغه ناولي جګړه دوام کوي، په همغه اندازه به د اسرائیل، امریکا او پلویانو یي نړیوال اعتبار کمزوري شي او د عربو او د نړۍ د مسلمانانو او نورو صلحدوسته هیوادو د کرکي سبب وګرځي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولــئ